آصف بهاند

۲۰۱۶/۱۲/۰۴

# او وريځې وشرميدې

وريځې
زموږ د کلي
د کنډوالو
وچو ډاګو په خاطر
لکه پيروته
سره تاوې
زړغوني شولي
خو له ناکامه نه يي
دا خپلې اوښکې
زموږ پرکلي باندې تويې نه کړې

په زوړند سر يي
نا مالوم لوري ته
لمنې ټولې کړلې

وريځو ژړل په ورت، ورت
او په ست، ست سره
زموږ له کلي کډه شولې
او نور له شرمه
نه يي شا ته کتل

۱۹۹۷/۰۳/۲۵ماسکو - روسيه





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ